# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسيس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٤٠ ګڼه / سه شنبه ۲۱ شوال‌المکرم ۱٤٤٥ هـ.ق / ۱۱ ثور ۱٤۰۳ هـ.ش / ۳۰ اپریل ۲۰۲٤ میلادي


## فراه کې د اوړو یوې کارخونې پر فعالیت پیل وکړ



فراه کـــې د فراه بخش ابـــاد د اوړو تولیدي کارخونې پـــر فعالیت پیل کـــړ. په فراه کې د اســـلامي امارت د مســـوولینو په ملاتړ د یو تن ملي ســـوداګر له لوري د شاوخوا ۲۰۰ زرو ډالرو په لګښـــت د فراه بخش اباد د اوړو تولیدي کارخونه جوړه او پر فعالیت یې پیل وکړ.

د یاد ولایت د صنعت او سوداګرۍ رییس حافظ شمس الحق اجمل د باختر اژانس خبریال ته ویلي، چې د اوړو دغه تولیدي کارخونه د ملي سوداګر کمال الدین له لوري جوړه شوې ده. ۳مخ

### گام به سوی خـــودکـــفایی؛

# سه کـــارخـــانه تـــولیـــدی در هـــرات به فعالیت آغـــاز کـــرد

معاونیـــت اقتصـــادی رئیس‌الوزرا می‌گوید، ســـه کار خانـــه تولیدی در بخـــش ادویـــه و مشـــروبات غیرالکولی در ولایت هرات، آغاز به کار کرده‌اند.

ایـــن کارخانه‌هـــا از ســـوی مـــلا عبدالغنی بـــرادر آخونـــد، معاون اقتصادی رئیس‌الـــوزرا در ولایت هـــرات، افتتاح و بـــه فعالیت آغاز کرده‌اند.

آقای بـــرادر حین افتتاح این ســـه کارخانه از ســـرمایه‌گذاران کشور خواست که تولیداتشان را مطابق به معیار به بازار عرضه کنند.

معاون اقتصادی رئیس‌الوزرا افزود



که امارت اســـلامی بـــه کیفیت و معیار اولویت می‌دهد.

او با بیان این که نهادهای امارتی به تولیدات داخلـــی اولویت قایل‌اند تاکید کرده که برنامه‌های حمایتی زیادی از سوی امارت اسلامی به حمایت از ســـرمایه‌گذاران داخلی روی دست گرفته شده است.

این مقـــام امارت اســـلامی تاکید کـــرده کـــه فعالیت شـــرکت‌های تولیـــدی ایتـــوک فارمـــا، افغـــان مدیســـن، و شـــمس کـــولا بخش بزرگی از مشکلات مردم هرات را حل خواهند کرد.

گفتنی‌است که کارخانه... ص۳

## د ډبرو سکرو د پروسس مرکزونه او کرنیز کمپلکسونه جوړېږي



د رییس الوزرا محتـــرم ملا محمد حسن اخند په مشـــرۍ د کابینې په ۲۱مه غونډه کې په یو شمېر ولایتونو کـــې د ډبرو ســـکرو د پروســـس، بســـته کولـــو، تشـــوني او بارولو د مرکزونـــو پر جوړولو بحث وشـــو. ویل کیـــږي چې د ډبرو ســـکرو د پروســـس دغه مرکزونه به په پکتیا، پکتیـــکا، خوســـت، ننګرهـــار او کندهـــار ولایتونو کې جوړ شـــي.

دغه راز دې غونـــډه کې د کرنې او مالدارۍ وزارت لـــه لوري په بلخ، ننګرهار، هـــرات او هلمند ولایتونو کې د شـــېدو کرنیزو کمپلکسونو د جوړولو طرحه اقتصادي معاونیت تـــه ســـپارل شـــوې، چـــې ددغه معاونیـــت تـــر کتنې وروســـته به د منظورۍ په موخه د مشـــرتابه مقام ته واستول شي.

## بهر ته د پروسس په موخه د خامو کاني توکو لېږد بند شو



د کانونو او پټرولیم وزیر شیخ شهاب الدیـــن دلاور د کان کیندنې په برخه کې د یوې سترې چینایي کمپنۍ له مسوولینو سره په کتنه کې ویلي چې وزارت لـــه هېواده بهـــر د کاني توکو پروسس ته اجازه نه ورکوي.

ښـــاغلي دلاور ویلي، د اســـلامي امارت له شرایطو سره سم هغه کاني توکي چې په هېواد کې دننه پروسیس کیږي، مرســـته او ملاتـــړ کوي او له هېواد نه د باندې د پروسیس په موخه د کاني توکو لېږد ته اجازه نه ورکوي.

د چین د کان کیدنې تر ټولو د سترې کمپنۍ (اېم سي سي هولوډا)رییسد کانونـــو او پټرولیـــم له سرپرســـت وزیر ســـره په کتنه کې د افغانستان د مسو، سربو او چستو په کانونو کې د پانګونې لپاره لېوالتیا ښودلې ده.

اسلامي امارت له ټولو پانګوالو چې پر کانونـــو پانګونه کوي غوښـــتي، افغانســـتان کې دننـــه د کاني توکو پروسس ترسره کړي.

## هرات کې د مطالعې د ودې په موخه د کتاب نندارتون پرانیستل شو



پـــه هرات کـــې د خواجـــه عبدالله انصاري د ۱۱۴۹ تلین په مناسبت د کتاب نندارتون پرانیستل شو.

دغه نندارتون د (مطالعې فرهنګ د ودې) تر سرلیک لاندې د اطلاعاتو او کلتـــور وزارت د خپرونـــو چارو معیـــن او د هرات مرســـتیال والي مهاجر فراهي په شتون کې پرانیستل شو.

فراهي د دغه نندارتون د پرانیســـتلو پر مهال د کتاب لوســـتل د افغانانو کم رنګه شوی فرهنګ بللی او زیاته کړې یې ده چې باید ... ۳مخ


پر سیمه‌ییز قدرت د چین په بدلېدو کې د کابل ـ بېجینګ د اړیکو رول ۲

مواد مخدر و تأثیر آن بر جامعه ۲

تمامی ساخت و ساز منازل در کشور معیاری و اساسی می‌شود ۲

افغان اعلانات ۳


### سرمقاله


## د منځنۍ اسیا هېوادونه دې له افغانستانه ډاډه اوسي!

د خبرونو په حواله ویل شـــوي چې د روســـیې دفاع وزیر ورمه ورځ په یو اخباري بیان کې یو ځل بیا د منځنۍ اســـیا هېوادونه د افغانستان له اړخه وېرولي او زیاته کړې یې ده چې یاد هېوادونه افغانستان کې د شته ترهګرو ډلو له ګواښ ســـره مخ دي. په دې لړ کې موږ له تېرو څه باندې دوه نیمو کلو راهیسې په تکرار سره د روسي چارواکو دغه ډول څرګندونې په داسې حـــال کې اورېدلې چې له یوې خوا نه د روســـیې حکومت په دې اړه کوم ســـند او شواهد وړاندې کړي او نه په نومړو هېوادو کې داسې کومه پېښه منځ ته راغلې چې په څه ناڅه توګه افغانســـتان سره وتړل شي.

خو له بده مرغه روســـي چارواکي پرله پســـې ډول افغانانو ته ګوته نیسي او بې ســـنده تورونه پورې کوي. دا هم بیا په داســـې حال کې چې زموږ د بهرنیـــو چارو وزارت له لوري په ټینګار ســـره ددې ډول پروپاګند تردید شـــوی، له یادو هېوادو ســـره یې ښـــې تودې اړیکې پاللې او هغوی ته یې بشـــپړ ډاډ ورکړی. دا لا څه روسي چارواکي ان له هغې پېښې وروسته هم افغانـــان یو خطرناک ګواښ بولي چې عاملان یې تاجکســـتاني اتباع، پړه یې پر داعش او قربانیان یې درې ســـوو ته رسېدلي وو. په دې دلیل زیاتره شـــنونکي اټکل کوي چې ښـــایي له دې ډول څرګندونو د روسانو اصلي موخـــه داوې چې د افغانانو او منځنۍ اســـیا د خلکو ترمنځ د اســـلامي وروړګلوۍ د لا ټینګېدو مخه ونیسي. یعنې هغوی د افغانستان له لوري په ډاړکې وســـاتي. ځکه حقیقت دادی چې روسان په خپل قلمرو کې خپله هم له اســـلامي ویښـــتابه وېره لري، که څه هم د سیاسي اهدافو او غرب سره د ســـیالۍ له امله ظاهراً ځان د مســـلمانانو خواخوږي بولي. خو څه چـــې افغانانو پورې اړه لري، هغه دا حقیقـــت دی چې زموږ په هېواد کې نه ترهګر شـــته، نه بـــه قطعاً کوم افغان د دوی خوا تـــه د ترهګرۍ په نیت ورپورې وځي او نـــه موږ دې ته فارغ یو چې د خپل جنګ ځپلي هېواد او خلکـــو د ودانۍ او خدمت پرځای نورو هېـــوادو کې خپله انرژي مصرف کړو. موږ فقط د خپلې اقتصاد محوره پالیسۍ پر بنا ټولو نړیوالو خصوصاً ګاونډیو هېوادو سره دوستانه اړیکې پالل غواړو- په دې توګه موږ په ټینګار ســـره هم روسیې او هم د منځنۍ اسیا ګردو هېوادو ته بشپړ ډاډ ورکوو چې زموږ له لوري دوی ته هیڅ ډول خطر شـــتون نه لري. راځئ بې اساســـه خبـــرې مه کوئ اومه یې منئ، بلکې راوړاندې شـــئ او د اقتصادي راکړې ورکړې، ترانزیټ، سوداګرۍ او داسې نورو مثبتو اړیکو پرمټ... ۳مخ

### نورستان د اطلاعات او کلتور ریاست:

## هر کال په زرګونه سیلانیان له تفریحي ځایونو لیدنه کوي



شریعت: افغانســـتان ته د اسلامي راتګ وروســـته دې هېواد ته بهرنیان رامات شـــوي دي، چې د اطلاعات او کلتـــور وزارت د مالي، اداري او کرځنـــدوی معینیت په وینا تېر کال بهرنیو سیلانیانو راتګ له ۵ زره او د داخلي سیلانیانو شمېر له میلیونونو اوړي. افغانســـتان ډېـــرې تفریحي ســـیمې لري، چې مشـــهور ولایت یې پـــه ختیځ کې پروت نورســـتان سیمه دی. د نورســـتان د اطلاعاتو او کلتورریاست د مسؤلینو په وینا، د اســـلامي امارت په حاکمیت سره نورستان ولایت ته د ســـیلانیانو په راتګ کې د پـــام وړ زیاتوالی راغلی دی. د اســـلامي امارت لـــه راتګ وړاندې د بهرنیو وګړو د سیاحت په نښت حســـاب و، اما اوس د نړۍ له بېلابېلـــو هېوادنو څخـــه بهرني سیلانیان د ســـیاحت لپاره راځي او هرکال له ۶۰ زرو څخه ... ۳مخ

## اورښتونو په هلمند کې ۸۰ تنو ته مرګ ژوبله اړولې

د هلمند د مرکز لښکرګاه په ګډون د یاد ولایت په ۱۸ ولســـوالیو کې ســـېلابونونو، توپانـــي بادونـــو او تالندو ګڼ مالـــي او ځاني زیانونه رامنځته کړي دي.

ویـــل کېـــږي چې پـــه دې ولایت کې اورښـــتونو تېره میاشت ۲۸ تنه شـــهیدان او ۴۹ نور زخمیان کړي دي.

د امنیـــه قومندانۍ ویاند ملا عزت اللـــه حقانـــي ویلي چـــې د یادو طبیعـــي افاتـــو پر مهـــال ۵۷۴۷ کورونـــه، ۳۵۷ دوکانونه، ۲۶۳ د ویالو کوچني بندونه، ... ۳مخ



## احتمال بارش برف و باران‌های شدید در ۱۰ ولایت کشور

ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت و هوانـــوردی ملکـــی پیش‌بینـــی کـــرده کـــه ۱۰ ولایت کشـــور گواه برف‌باری‌ها، بارش باران، رعدوبرق و سرازیر شـــدن سیلاب خواهد بود.

این ریاســـت بـــا نشـــر خبرنامه‌ای گفتـــه کـــه ایـــن احتمـــال در برگیرنـــده امـــروز خواهـــد بـــود.

بربنیـــاد خبرنامـــه، در ولایت‌هـــای خوســـت، پکتیـــکا، لوگـــر، کابل، لغمـــان، ننگرهار، کنر، نورســـتان، تخـــار و بدخشـــان، برف‌باری‌هـــا و باران‌ها، پیش‌بینی شـــده اســـت.

ریاســـت هواشناســـی مقـــدار ارندگی‌هـــای فـــردا را ۱۵ تـــا ۲۵ ملی‌متـــر، پیش‌بینـــی کرده اســـت.

هشـــدار از باران‌هـــا و برف‌باری‌ها در ۱۰ ولایـــت کشـــور درحالـــی صادر شـــده کـــه اکثـــر بخش‌های کشـــور از پنـــج روز به این‌ســـو گواه بارندگی‌ها و برف‌باری بوده اســـت.

ایـــن بارندگی‌هـــا تلفـــات جانی و خســـارات مالـــی نیز در پی داشـــته است.

## آغاز کمپاین بهاری واکسین پولیو در شرق کشور




کمپاین چهار روزه واکســـین پولیو در شرق کشـــور از سوی مقام‌های محلـــی ولایـــت ننگرهـــار در این ولایت افتتاح شد.

ایـــن کمپایـــن دیـــروز از ســـوی ســـعید احمد بنوری، معاون والی ننگرهار آغاز شده است. ص۳

# پر سیمه‌ییز قدرت د چین په بدلېدو کې د کابل ـ بېجینګ د اړیکو رول

ثناءالله‌عمران

جان میرشایمر وایي نړۍ د شطرنج یوه تخته تصور کړئ، چیرې چې دولتونه د قدرت خوندي کولو لپاره مانور کوي او د نړیوال قدرت په جوړېدو کې لومړی سیمه‌ییز قدرت جوړېدل مهم دي.

په منځنۍ او سویلي اسیا کې د نړۍ د نورو مطرح لوبغاړو په پرتله د چین رول مخ په ډېرېدو دی. د نورو عواملو تر څنګ د ستراتیژیکو معدني زېرمو شتون چین دې ته هڅوي چې په دې برخه کې پراخه پانګونه وکړي او دا به په سیمه کې د چین د نفوذ د پراختیا او سیمه ییز قدرت جوړېدو ته چې له وړاندې یې شکل نیولی، ښه لاره هوارولی شي.

په افغانستان کې د چین مخ پر وده لېوالتیا، د ا.ا.ا. د لوی سفیر له منلو څخه نیولې بیا تر بنسټیزو معاملو پورې، دواړو هېوادونو لپاره د ستراتېژیک یون په توګه انګېرل کېږي.

له ډېر ځنډ وروسته اوس په افغانستان کې امنیت ټینګ او د قدرت جزیرو او پر اشغالګرو اتکاء ته د پای ټکی اېښودل شوی. د اشغالګرو په شړلو سره د افغانستان او سیمې په جیوپولیټک وضعیت کې لوی بدلون راغلی اوګاونډ او سیمه‌ییز هېوادونه د غربي اشغالګرو ناولو سیاستونو د خطر څخه تر یوه بریده لرې شوي، په واقعیت کې اوس افغانستان په سیمه کې د ننګونو او ګواښونو پر ځای د سیمې هېوادونو لپاره د مشترکو مشروع ګټو د تعقیب او مشترکو ګواښونو په وړاندې د تعامل په یوه هېواد اوښتی دی.

په زړه پورې خبره دا ده چې د شي جین پینګ په مشرۍ چین په نړۍ کې لومړی دولت شو چې د ا.ا.ا. پخوانی مرستیال ویاند بلال کریمي یې له شاوخوا دوو کلونو وروسته په بېجینګ کې د رسمي سفیر په توګه ومانه. په ډیپلوماټیکه برخه کې د چین او افغانستان دغه پرمختګ د غرب پر طبیعت سم ونه لګېد او د هغه په اړه یې له چین څخه د وضاحت غوښتنه وکړه او بیجینګ هم خپل ډیپلوماټیک وضاحت وړاندې کړ.

د غرب په مشرۍ د امریکا دغه ډول غبرګون له دې امله دی چې وکولی شي د ا.ا.ا. قضیې په اړه بین المللي ډیپلوماټیک اتفاق او انحصار په‌خپله ولکه کې وساتي، خو د روان ز کال په فبرورۍ کې په دوحه کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ځانګړي استازي د ټاکلو په موخه غونډه کې د چین او روسیې له لوري د سپنې رایې کارونه او په هغه کې د ا.ا.ا. پلاوي نه‌ګډون دا په ډاګه کړه چې له یوې خوا بین المللي ډیپلوماټیک اتفاق او انحصار د غرب په ولکه کې نه‌دی او له بلې‌خوا هېڅوک نه شي کولی د افغانستان اړوند بحثونو کې د ا.ا.ا بای پاس کړي.

چین د یوه نړیوال ځواک په توګه راپورته کېدو سره په سیمه کې د اوږد مهاله ګټو په لټه کې دی او له افغانستان څخه د امریکایانو له وتلو سره بېجینګ ته په سیمه او افغانستان کې د نفوذ غځولو ښه زمینه برابره شوې، پر همدې بنسټ هغه له افغان حکومت سره د تعامل کچه لوړه کړې او په هېواد کې جیوپولیټیک او ستراتیژیک اهداف تعقیبوي؛ البته په افغانستان کې د چین نفوذ د ډېرېدلو یو لوی علت په‌خپله د امریکا سر ټمبه او استعماري سیاستونو ته ورګرځي. که د امریکا سیاسي رهبري غواړي چې خپل پرسټېژ او ګټې خوندي کړي، نو ورته لازمه ده له واقعیتونو سره سم د متقابل چلند لاره خپله کړي.

همدارنګه چین له حاکم بین المللي وضعیت څخه په ګټې هڅه کوي چې په سیمه کې د امریکا د نفوذ مخه ونیسي او ځان د یو مسؤل سیمه ییز ځواک په توګه څرګند کړي چې د سیمې په ثبات کې د پام وړ مرستې وړتیا ولري.

چین ته په افغانستان کې تر ټولو بنسټېزه مسئله ثبات او امنیت دی، یاد هېواد نه غواړي چې افغانستان ناامنه وي او قلمرو یې په وړاندې وکارول شي. دغه ډول اندېښنو ته یعنې د افغان خاورې نه استعمال داد د ا.ا.ا. له لوري نه یوازې بېجینګ، بلکې نورو لرې او نیږدې جهتونو ته هم ورکول شوی او تر دې مهاله له افغانستان څخه کوم ګاونډي ته څه ګواښ نه‌دی متوجه.

د افغانستان او چین تر منځ ورځ تر بلې ډېرېدونکي تعاملات د متقابلو ګټو پر بنسټ مخته درومي، د دې لپاره چې افغان حکومت وکولی شي د افغانانو اقتصادي او ګڼو نورو اړتیاوو ته ځواب وویلی شي او د غرب له سیاسي، اقتصادي او نورو محدودیتونو او فشارونو سره ښه مبارزه وکړي، اړ دی له چین سره ښې اړیکې ولري.

افغانستان د لیتیم، مسو او یو شمېر نورو قیمتي مینرالونو په شمول پراخې معدني زېرمې لري، چې د چین د ټیکنالوژیکې پراختیا او د یو کمربند او یوې لارې د نوښت (BRI) په څېر د بنسټیزو پروژو لپاره خورا مهم دي. په داسې حال کې چې په تېر کې د کانونو چارې د امنیت نه شتون او اشغالګرو د شتون له امله له ننګونو سره مخ وې.

چین په بېلا بېلو وختونو کې له افغانستان سره بشردوستانه مرستې کړې او لا له وړاندې یې په بنسټیزو پروژو کې پانګونې ته لیوالتیا ښودلې چې په اوسنیو شرایطو کې دا ډول اقتصادي تعامل د جګړه ځپلي افغانستان لپاره خورا اړین دی.

همداشان د امو سیند له حوزې د تېلو استخراج تړون تېر کال د جنورۍ په میاشت کې د ا.ا.ا. د چین د سنکیانګ د مرکزي اسیا د پټرولیم او ګاز شرکت (CAPEIC) تر منځ لاسلیک شو.دا تړون د ۲۵ کلنو لپاره لاسلیک شوی او یاد شرکت به د درېیو کلونو په اوږدو کې ــ ۲۰۲۶ ز کال ــ پورې په دې برخه کې ۵۴۰ میلیون ډالره پانګونه وکړي.

پر دې سربېره د ۲۰۲۲ زکال د جولای له میاشتې راهیسې چین د افغان جلغوزو واردات زیات کړي او پر ۹۸٪ افغاني توکو یې تعرفه صفر ته را ټیټه کړې ده. په پام کې ده چې د افغانستان اقتصاد له چین سره پر افغاني توکو د سوداګرۍ محدودیتونو د لرې کولو له لارې نور هم نږدې شي.


دا حقیقت چې افغانستان، چین او پاکستان هر کال درې اړخیزي غونډې کوي، نو څرګندېږي چې کابل د یو کمربند او یوې لارې پروژې د ګډون په برخه کې مهم دی. په داسې حال کې چې په پاکستان کې بیا په چین پورې اړوند پروژو او چینایي اتباعو په وړاندې ورځ تر بلې خطر ډېرېږي، چې لامل یې د پاکستان په حکومت کې ځینو ځانګړو غرب پلوه کړیو ته ور ګرځي.

په دې ورستیو کې د ځینو خبري اژانسونو له ادرسه داسې معلومات خپاره شول چې ګواکې د داعش خراسان څانګې مشر شهاب المهاجر اوسمهال په بلوچستان کې میشت دی او له همغه ځایه په سیمه کې فعالیتونه تنظیموي. دا به د سیمې هېوادونو ته ډېره ګرانه وي چې ومني د پاکستان تر زنې لاندې دا فعالیت پاکستانی استبلشمنټ خبر نه وي یا دې اړیکه وسره ونه‌لري.

داعش ته دا ډول زمینه سازي د سیمې د ناامنه کولو ترڅنګ د سپیک(CPEC) او د واخان په شان د لویو سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو د تطبیق په وړاندې ممکن خنډونه رامنځته کړي چې دا په منځنۍ اسیا کې د چین او نورو هېوادونو له ستراتېژیکو موخو سره په ټکر دي.

په داسې حال کې چې پاکستان د امنیتي ستونزو تر څنګ، له شدیدو اقتصادي ستونزو سره هم لاس او ګرېوان دی، د دې لپاره چې له دغه ترینګلي وضعیت څخه یې د خپلو خلکو پام اړولی وي یا د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره د ګاونډیو هېوادونو او بین المللي ټولنې په اذهانو کې د افغانستان حکومت په هکله بدګماني او منفي ذهنیت رامنځته کړی وي، کله ناکله د افغانستان په ادرس بې بنسټه تورونه لګوي او په پاکستان کې نا امنیو ته له افغانستان سره تړاو ورکوي.

لنډه دا چې په افغانستان کې د چین ستراتیژیکې ګټې په منځنۍ اسیا کې د چین له پراخو هیلو سره تړلې دي. یو باثباته افغانستان په ټوله سیمه کې د سوداګرۍ او پانګونې لپاره اسانتیاوې برابر وي او د یوه کمربند او یوې لارې پروژې له ودې سره به په سیمه کې د چین اقتصادي او سیاسي نفوذ ته زمینه مساعده شي.



# تمامی ساخت و ساز منازل در کشور معیاری و اساسی می‌شود

داوودناظری

غیر معیاری بودن ساخت و ساز در شهرها و مناطق دور دست کشور، یک مانع بزرگ بر سر راه توسعه و خطر کلان جانی برای شهروندان به شمار می‌رود. امسال در نتیجه تداوم باران‌ها، تعداد زیادی از خانواده ها آواره گردید و تعدادی زیادی از مردم از بین رفت.

مبارکشاه روحانی معاون اتحادیه شرکت‌های ساختمانی کشور به روزنامه شریعت می‌گوید: در گذشته به دلیل فساد گسترده و نبود نظارت و کنترول از سوی حکومت جمهوریت، بیشتر منازل و شهرک ها به گونه غیر معیاری ساخته شده. به گفته ایشان این مسئله هم جان و مال مردم را به خطر انداخته و هم برنامه های توسعه‌ای را با کندی مواجه کرده است. وی از امارت اسلامی افغانستان می‌خواهد که با کنترول و نظارت دقیق از جریان ساخت و ساز، بر سهولت در امر خانه سازی توجه کند تا برای مردم زمینه کار فراهم شود.

محمد کمال افغان سخنگوی وزارت شهرسازی و مسکن به روزنامه شریعت می‌گوید: بعد از این تمامی ساخت و ساز منازل در کشور معیاری و با مواد پخته و اساسی خواهد بود. وی تاکید می‌کند که از هرنوع ساخت وساز غیر معیاری منازل بالای ملکیت های غصبی و غیر پلانی جلوگیری می‌شود. به گفته آقای افغان، ساخت و ساز خانه ها باید مطابق ماستر پلان، در مکان‌های دوراز حوادث طبیعی و بالای زمین های دارای قباله شرعی صورت گیرد و مواد آن نیز اساسی و معیاری باشد.

نعمت الله بارکزی سخنگوی شاروالی کابل نیز به روزنامه شریعت می‌گوید: تمامی ساخت و سازهای جدید در پایتخت مطابق ماستر پلان و معیاری است و برای ساخت و ساز خودسر و در زمین های غصبی و جنجالی اجازه داده نمی‌شود.

کابلیار مدیر اطفائیه کابل نیز به روزنامه شریعت می‌گوید: قبل از آغاز کار هر منزل وساختمان، مسایل امنیتی و آتش نشانی آن نیز از سوی متخصصان اطفائیه کابل بررسی می‌شود. به گفته وی در گذشته ساخت و ساز به گونه‌ی بوده که نه لوله آب مشخص بوده، نه مسیر رفت و آمد برای نیروهای اطفائیه وجود داشته و هیچ مسایل ایمنی آن رعایت نشده است.



# مواد مخدر و تأثیر آن بر جامعه

عبدالحق‌عتید

مواد مخدر یکی از موضوعات مهم وقابل بحث در سطح جهان وجامعه بین المللی است که همواره زمامداران ومتولیان امور کشورها روی جلوگیری آن بحث و گفتگو دارند وطرح های متعددی را برای پیشگیری از آفات وپی آمدهای ناگوار آن مطرح می‌کنند، در واقع امروز مواد مخدر پیش ازآنکه مسئله‌ی خطرناک برای نابود سازی نسل جوان واز هم پاشی فامیل ها مطرح گردد ، شکل سیاسی را به خود گرفته جامعه بین المللی با وصف آنکه خودرا مخالف سیاست گسترش وتجارت آن میداند ولی در واقع کشت وترویج آن را یکی از راه های پر درآمد خود وکارمندان خویش می‌داند، چون تعداد زیادی از ایشان در سطح جهان به بهانه مبارزه با مواد مخدر زندگی خودرا سروسامان بخشیده اند واز همین رهگذر دارای زندگی مرفه وآرام می باشند، کنفرانس های را تحت نام مبارزه با مواد مخدر در برخی از کشورها راه اندازی می کنند و پیرامون خطر گسترش مواد مخدر و راه های پیشگیری از انتشار آن صحبت ها وسخنرانی های را به راه می اندازند و به کشورهای تولید کننده فندهای بالای می‌دهند تا از کشت آن جلوگیری نمایند .

در حقیقت مرکز وثقل این فعالیت های ضد ترویج مواد مخدر در افغانستان نسبت به هرکشوری دیگر نمایان ومشهود است، در زمان جمهوریت کشورهای استعمار گر برافغانستان یورش بردند چند مسئله‌ی را به عنوان فعالیت های اساسی و زیر بنایی خود به راه انداختند، از قبیل آزادی بیان، حقوق زن، دموکراسی، مبارزه



بامواد مخدر، تروریزم وغیره این همه را برای تحقق بخشیدن به این اهداف در ظاهر شعار های پر زرق وبرق را بلند کرده بودند ، وسنگ دفاع از حقوق زنان وآزادی بیان را برسینه می زدند ولی در واقع تحت این شعار به ترویج فساد وفحشاء مبادرت ورزیده بودند ، وبنام محو کشت مواد مخدر نه تنها وزارتی را ایجاد کردند بلکه در برخی از وزارت ها معینیت های را هم بدان افزودند که سالانه میلیون ها دالر به عنوان مبارزه با کشت کوکنار به این ادارات تحویل می‌دادند ، این پول‌ها در واقع در جیب چند تن از مافیایی مواد مخدر وکارمندان دولت وغیره سرازیر می گردید ونه تنها از گسترش آن جلوگیری به عمل نمی‌آمد بلکه بیش از پیش تجارت این مواد کشنده وخانمان سوز رونق می یافت و برای اینکه به مردم نشان دهند که ایشان در تصمیم خود مبنی برجلوگیری از کشت مواد مخدر مصمم اند کارهای روتینی را انجام می‌دادند واشخاص بیچاره ومظلومی را که از ناچاری به این کار مبادرت ورزیده بودند دستگیر ودوسیه ای بنام مرتکبین تجارت مواد مخدر به دادگاه می فرستادند، اما آنهایی که در رأس کار قرار داشتند مواد مخدر را در موترهای شیشه سیاه در کابل و ولایت ها جمع آوری نموده و از طریق ترافیک هوایی به جاهای مورد نظر انتقال می دادند ، پل سوخته در کوته سنگی به صفت یکی از نمایشگاه های مطرح وبدنام مواد مخدر در سطح افغانستان شناخته شده بود که هزاران معتاد در زیر پل های کثیف آن در چهار فصل حضور گسترده ای داشتند وبرای اثبات مدعای خود دونر های تمویل کننده مواد مخدر را به آنجا برده ومهر تأیید به حرف های خودرا از زیر پل های کثیف و ساحل دریایی خشک وآلوده دریای کابل می زدند . درواقع نه دولت وقت ونه هم دونرهای بین المللی که دفاتر لکس ومعاش های بلندی را دریافت می داشتند هیچ اراده ای برای محو وجلوگیری مواد مخدر نداشتند؛ بلکه برعکس کوشش به خرج می‌دادند تا گسترش این پدیده شوم را به عنوان خطرناکترین عنصر در سطح جهان معرفی نمایند.

اما با آمدن امارت اسلامی گلیم استفاده جویی ادارات ذیربط مواد مخدر جمع و ادارات فاسد آن مسدود گشت، امارت اسلامی نه تنها از هیچ منابع بین‌المللی برای مبارزه با آن خواهان کمک نشد بلکه دامن برزد وتصمیم گرفت که شیرازه این لکه بدنامی را از دامن افغانستان ومردم آن بردارد ، همان بود که با یک اقدام دلیرانه تمام معتادان را از مراکز وولایات جمع وجهت تداوی به بیمارستان‌ها معرفی داشت ومکان‌های شان را که زباله ها در آن انداخته می‌شد به چمن وگلزار ها مبدل ساخت و امروز از فضل این اقدام نیک مردم از رجس مواد مخدر در امن وامان کامل بسر می‌برند، ودیگر مردم غریب وبیچاره به بهانه تجارت مواد مخدر روانه زندان نمی‌شوند ، امروز ولایات چون هلمند که از مشهور ترین تولید کنندگان مواد مخدردر افغانستان شناخته شده بود به جای کشت کوکنار به باغداری و دامداری مصروف اند وزندگی ایشان بیش از پیش رونق یافته است و امیدواریم که هم چو اقدامات خردمندانه بتواند افغانستان را به سوی بهروزی وسروری وشاد زیستی سوق دهد، و مردم از نعمت تعلیم وآموزش وآرامش لذت برند و در سایه عدل وانصاف زندگی کنند.

# له پیریانو د خلاصون علاج

**حسان مجاهد**

إبن عقیل رح په خپـل کتاب[الفنون] کې لیکي: پـه بغداد کې یو کـور و، هر څوک چې به پکې میشت شـو، نو سبا به ټول به مړه وو، یو ځل د قرآنکریـم یو حافظ ورته راغی، کور یې کرایه کړ او پکې مېشـت شو حافظ ټوله شپه سالمه تېره کړه او سهار شو، شاوخوا ګاونډیان ورته حیران وو او ترې یې پوښـتنه وکړه حافظ وویل: ما چې تېره شپه د ماخوسـتن لمونځ ادا کـړ او د قرآنکریم تلاوت مې وکـړ، ناڅاپه په سـرای کې له څاه څخه یو ځوان را پورته شـو او ماته یې سلام وکړ، زه وډار شوم، ده راته یو چا یا څه شـي وویل: ته بېغمه شـه، تاته هیڅ زیان نه رسـېږي، ماته لږ قرآنکریم را زده کړه! بیا یې وویل: موږ مسـلمان پیریـان یوو، موږ قرآنکریم لولو او لمونځونـه کوو او دا کور چې به هرچا کرایه کاوه، ټول به فاسقان وو، دوی چې به د شـرابو په څښلو را ټول شول، موږ به سمدسـتي تر غاړو ونیول او وبه مو وژل؛ ځکه موږ ته یې ضرر رساوه.

نن چې په اکثرو ښـځو او نارینه وو پیریان مسلط دي او په ډول ډول رواني ناروغیو او آفتونو اخته دي، لوی لامل یې دا دی چې، په مسـلمانانو کې بې دیني خپره شوې ده، د فرائضو او واجباتو هېڅ خیال نه سـاتي، د سهار او ماښام هغه مسـنون اذکار یې له پامه ایستلي چې رسـول ﷺ خپل امت ته ور ښـوودلي دي او مسلمان پرې د هر شي له ضرره ژغورل کېږي، داشـان د عقیدوي کمزوریو تـر څنګ په ډېرو نـاروا کارونو، رواجونو، عاداتو او خرافاتو کې ښکېل دي.

له پیریانو او داسـې نورو آزمایښتونو، آفتونو او سـتونزو د نجات یوازینی علاج راسخه عقیده، د شریعت کامله اتباع، او له ګناهونو ځان ژغورل دي؛ ځکه انسـان چې کله په ایماني ځواک پوره سـمبال وي، عقیده او روحیه یې پیاوړې وي، بیا هېڅ شـی ورته زیان نه شي رسولای.



## دانقرې-کابل ترمنځ الوتنې...

وروسـته یعنـې د غبرګولي پـر لومړۍ نېټه یاده کړې ده. د ټرانسـپورټ او هوایي چلند وزارت ویلـي چې دوی د دغو الوتکو ورتګ ته چمتوالی لري او پـه وینا یې اونۍ کې به څلور ځله تګ راتګ کـوي. تر دې وړاندې امـارات متحـده ایالاتـو، ایـران او د نورو هېوادونو شرکت هم د مستقیمو الوتنو بیا پیل ته چمتووالی ښودلی و.

## د منځنۍ اسیا هېوادونه دې له...

هم خپل هېوادوال سـوکاله او بسـیا کړئ او هم د جنګ ځپلو افغانانو د کور ودانولو په چاره کې مرسـته وکـړئ همدا د امنیت ټنیکولو تر ټولو غوره لار ده.

## د غوري سمنټو کارخونه د تولیداتو...

دي، چې له لوړېدو سره ... ۳مخ به یې هره ورځ ۱۰۰۰ بورۍ سمنټ تولید شـي. نومړی وایي، زمونږ څلور داشونه فعال دي او پـه ۲۴ سـاعتونو کې نږدې له ۱۰۰۰ څخـه تر ۱۲۰۰ ټنو سـیمنټ تولیـدوو. د نومـوړي پـه خبـره په دې فابریکه کې ۷۵۰ کسـانو تـه د کار زمینه هم برابره شوې ده.

## بامیانو کې د کمیابه مرغانو...

د عالیقـدر امیرالمؤمنیـن حفظـه الله له لـوري په ټول هېـواد کـې د لږموندونکو مرغانـو او وحشـي ژویو پر ښـکار بندیز ولګول شو.

## هر کال په زرګونه سیلانیان...

زیات داخلـي سـیلانیان د نورسـتان له بېلابېلو سیمو څخه لېدنه کوي.

د نورستان د اطلاعات او کلتور رئیس مولوي سـمیع الحق حق بیان د شریعت ورځپاڼې خبریال ته په یوې ځانګړې مرکه کې د دغه ولایت د تفریحي سـیمو پـه اړه وویل: د نورسـتان لرغوني او مشهور ځایونه عبارت دي له ایندرګون باغ، کشـتکي معبد (بیت الله)، کموبـاغ، نایب سـالار عبدالوکیل خان قلعه، منډول حوض، کله ګوش، ګرم چشـمه، دیوانه بابا زیارت او داسې نورې سیمې چې زیات شـمېرهېوادوال یې لیدو ته راځي.

ښـاغلی حق بیان وایي، چې تر پخوا اوس سیلانیانو ته تر ډېره بریده اسانتیاوې برابرې شـوې دي، خصوصي سـکتور تشـویق شـوی دی، په مختلفو برخـو کې هوټلونه جوړشـوي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوري سـیلانیانو ته هم یـو عصري هوټل جوړېږي؛ د تفریح ځایونه مشخص شوي، سـیلانیانو ته د تفریح لپاره په پارون کې د اوبو بند کې کشـتۍ خوشـې کړي او ټولو داخلي او بهرنیو سـیلانیانو تـه تاریخي او ښکلې سـیمې په ګوته شـوي او هغوی ته لارښونه شـوې او په همدې ترتیب بهرني سیلانیان نورستان ته په راتګ خوشحاله دي او دوی همیشـه د نورستان د ښکلا صفت کوي او له بشپړ امنیت څخه ډېرراضي دي.

د اطلاعـات اوکلتـور رئیـس زیاتوي، د اسـلامي امارت په راتګ په ټول نورسـتان کې بشـپړ امنیت دی، هغـو درو ته چې تر اوسه یې سړکونه نه درلودل سړکونه ور جوړ شوي دي، د قومونو ترمنځ سترې دوښمنۍ په دوستۍ بدلې شوي، په لویو لارو پلونه او اسـتینادي دیوالونه جوړ شوي، په لرو پرتو سیمو کې ښـوونځي جوړ شوي، د روغتیا برخه چې مخکې له نشـت سـره حساب وه، اوس پـه اکثرو ولسـوالیو او درو کې په لسـګونه روغتیاي مرکزونه جوړشـوي، د ګرځندویانو لپاره اسانتیاوې رامنځته شوې.

همداشـان هغه زیاتوي، چې نورسـتان د افغانستان په ختیځ کې په ځنګلونو پوښلی یو غرنـی او زرغونی ولایـت دی، چې په پخوا وختونو کې د بلورسـتان او کافرستان په نومونو هم یادید، د نورستان خلک د امیر عبدالرحمـن خان په وخت کې په اسـلام دین مشرف شول.

یاد ولایت په ۱۳۹۹ کال کې د ملي پارک په توګه اعلان شـو، چې تر اعلان وروسته هر کال په زرګونه سیلانیان ورڅخه لیدنه کوي.

نومـوړي رئیـس ځینـي وړاندیزونـه هم درلـودل چې وایي: نورسـتان هر اړخیزې پاملرنې تـه اړتیـا لـري، د اطلاعاتو او کلتـور وزارت څخه مو غوښـتنه دا ده چې د ګرځنـدوی برخې تشـکیل تـه خاصه پاملرنـه وکړي، د هوټـل جوړېدو ترڅنګ نور تفریحي ځایونو ورغوي او د سـیلانیانو لپاره هوایـي زانګوګانې او لفټونه جوړ کړي او همداشـان د سـیلانیانو لپـاره لا ډېرې اسـانتیاوې برابرې کړي، چـې راتلونکي سـیلانیان او هېوادوال په نورسـتان ولایت کې له لا زیاتو سـهولتونو څخه برخمن او خپلې د خوښـیو شیبې په خوشحالۍ تېرې کړي.

**سـمیع الله مومند**

## اخراج اجباری و برگشت...

کمک‌هـای بیشـتر، معرفـی شـده‌اند. گفتنی‌اسـت کـه رونـد اخراج‌اجبـاری مهاجرین افغان از پاکستان و ایران همه‌روزه ادامه دارد.

## بلخ کې ترافیکي پېښې...

د بلخ ځایي مسـوولین وایـي چې ټپیان یې د درملنې په موخـه روغتون ته وړي. د روغتیاپالانو په قـول، د ټپیانو روغتیایي حالت ښه دی.

## فراه کې د اوړو یوې کارخونې...

ویل کیـږي چې دغـه کارخونـه په ۲۴ سـاعتونو کې د ۴۰ ټنو اوړو د تولید وړتیا لـري. مسـوولین وایي چې پـه راتلونکي کې به د دې کارخونـې تولیدات لا زیات شي. ددغې کارخونې اوړه اوسمهال د فراه سـربېره غزني او کندهار ولایتونو کې هم توزیع کیږي. د ویلو ده چې اوسمهال دغه کارخونه کې ۳۰ ځوانان هم پر کار بوخت دي.

## سه کارخانه تولیدی در هرات...

تولیـد ادویـه «ایتـوک فارمـا» بـا سـرمایه‌داری ۱۰ میلیـون دالر ۵۰ قلم ادویه تولید، کارخانه داروسـازی افغان مدیسـن با سـرمایه‌گذاری ۱۶ میلیون دالر و شـمس کولا با چنـد میلیون دالر به تازه‌گی در هرات ایجاد شده‌اند.

## هرات کې د مطالعې د ودې په موخه...

د دولت او خصوصي سکټور په همکارۍ بېرته ژوندی شـي. هغه لـه هنرمندانو او لیکوالانـو څخه د ملاتـړ ترڅنګ ویلي چـې باید د علـم په ډګر کـې پرمختګ وشـي او له دغـه کاروان څخـه افغانان ورسـته پاتې نه شـي. د یادونـې وړ ده، چـې د یاد ننداړتون د پرانیسـتلو پر مهال د هرات ولایت سـیمه ییزو مسـوولینو، لیکوالانو، سپین ږیرو او یو شمېر ځوانانو برخه اخیستې وه.

## اوربښتونو هلمند کې نږدې...

۵ روغتیایـي مرکزونه، ۱۶۶ پلونه، ۶۹۳ کارېزونـه، ۴۸۲ خـام سـړکونه او نور ویجاړ شوي دي.

د ښـاغلي حقاني په خبره دغو اوربښـتونو ۲۴مدرسې، ۱۰۷ مسـجدونه، ۲۹۰۴۶ تختې سـولر هنـداري، د ۶۰ بېـلا بېلو دوله موټرونو هنـداري، ۷۳۷۲۰ جریبه کرنیزه، همـدا راز ۷۹۳ څاروي وژلي او ۸۵ نور نادرکه دي.

بل پلـو، دفاع وزارت وایي چـې امنیتي ځواکونـه د هېوادوالو په چوپړ کې دي او زیانمن کسان خوندي ځایونو ته لېږدوي.

## آغاز کمپاین بهاری واکسین...

آقـای بنـوری از خانواده‌ها خواسـت که کودکان‌شان را واکسین کرده و از خطر فلج شدن نجات دهند.

مقام‌هـای محلی در زون شـرق کشـور می‌گویند، قرار اسـت در ایـن دور تطبیق واکسـین پولیو، حدود یـک میلیون ۴۸۵ هزار کودک در این زون واکسین شوند.

به گفته آنان، در این دور علاوه از واکسـین پولیـو ویتامین A نیز بـرای کودکان واجد شرایط داده می‌شود.

بربنیاد معلومات مقام‌های صحی، همزمان با زون شـرق کشور، کمپاین پولیو در دیگر ولایت‌ها نیز آغاز شده است.

این در حالی اسـت که سـال پار میلادی (۲۰۲۳) شـش رویـداد مثبـت پولیو در کشور ثبت شد که همه در ولایت ننگرهار بود.

# افغان اعلانات

### اطلاعیه مفقودی

یـک قطعـه قبالـه شـرعی دارای نمبـر ۱۳۴/۳۳۹ مـورخ ۱۳۸۳/۷/۷ مرتبـه محکمه وثائـق ناحیه سـوم ولایت کابل زمین واقع ناحیه سـوم کارته ۴ شهر کابل به اسم غلام عباس فرزند غلام نبی ولدیت برات علی مفقود گردیده از اعتبار سـاقط میباشد۵۰۱

***

### اطلاعیه مفقودی

یـک قطعـه قبالـه شـرعی دارای نمبـر ۱۳۳/۳۳۸ مـورخ ۱۳۸۳/۷/۷ مرتبـه محکمه وثائـق ناحیه سـوم ولایت کابل زمین واقع ناحیه سـوم کارته ۴ شهر کابل به اسم غلام عباس فرزند غلام نبی ولدیت برات علی مفقود گردیده از اعتبار سـاقط ۵۰۲

***

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسـلامی افغانسـتان ازتمـام داوطلبـان واجد شـرایط دعوت مینمایـد تـادر داوطلبـی (پـروژه اعمار سـه بـاب خانـه بـرای گمـرک آقینـه، وزارت مالیـه) دارای نمبـر تشـخیصیه MOF/1403/NCB/W-021 کـه به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشـتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجـراء میگردد بدسـت آرند.

جلسـه قبـل از آفرگشـایی: تاریـخ ۲۲/ ثـور /۱۴۰۳ سـاعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۲/ جوزا /۱۴۰۳ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تضمین آفـر : به مبلـغ ۵۵۰,۰۰۰ (پنج صدو پنجاه هزار) افغانی میباشد.

آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان - ریاسـت تدارکات، مشـاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۱۵۶

***

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسـلامی افغانسـتان ازتمـام داوطلبـان واجد شـرایط دعوت مینمایـد تادر داوطلبی پـروژهء تدارک طبخ و توزیـع غذای چاشت کارمندان و کارکنـان وزارت مالیـه) دارای نمبـر تشخیصیه -MOF/1403/NCB/NCS 007 کـه بـه روش داوطلبی بـاز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شـرایط شـرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجـراء میگردد بدست آرند.

جلسـه قبل از آفرگشـایی: تاریـخ ۲۰/ ثـور/۱۴۰۳ سـاعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشـایی: تاریخ ۰۲/ جوزا /۱۴۰۳ سـاعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۸۰۰,۰۰۰ (هشت صد هزار) افغانی میباشد.

آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان - ریاسـت تدارکات، مشـاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۱۵۶

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسـامی محترم شـرکت بهبود نوید لمتید یـک عراده موتـر پلیـت ۴۹۱۲۵-۲ ش کابل نوع تیوتا کـرولا غرفه دار خویش را بعد از طی مراحـل قانونی خرید و فروش بالای فضل هادی فرزند سر انداز بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سـه یوم به مدیریت ترافیـک کابل اطلاع دهند. ۷۰۰

***

### اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اسامی محترم جمشـید فرزند نعمت الله ولدیـت سـخی داد دارنده جـواز نمبر ( ۴۰۵۷ ) مـورخ ۱۹/ ۱۴۰۲/۱۲ متصدی رهنمای معاملات (جمشـید ملت) واقع (سرک برچی نارسـیده بیست متره) ناحیه (۱۳) شـاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویـش گردیده کـه بعد از نشـر اعلان رهنمای مذکـور فاقد اعتبـار قانونی بوده هر گاه ادارات دولتی و اشـخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقـی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشـته باشند بعد از نشـر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومـی انسـجام ، وزارت عدلیه اطلاع دهند.۶۷۴

***

### اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت تمیم یاسر لمتید یک عراده موتر پلیت ۱۷۲۷۱-۴ ش کابل نوع تیوتا کرولا سـالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای محمد آغا فرزنـد خال محمد بفروش رسـانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سـه یوم به مدیریت ترافیـک کابل اطلاع دهند. ۶۹۵

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محتـرم وفـی اللـه فرزنـد عبدالله خان ولدیـت عبدالصمـد دارنده تذکـره نمبر ( ۱۷۵۵۷۵۴۷ ) مسـکونه اصلی ولایت کابل مالـک امتیاز دواخانـه عارف وفی واقـع ناحیه هفدهـم ولایـت کابل طی درخواسـتی به مقـام محتـرم اداره ملی غذا و ادویه افغانستان عارض و خواهان فـروش امتیـاز دواخانه خویـش بالای محترم عبدالحامد بهزاد فرزند عبدالواحد ولدیـت عبدالنبـی دارنده تذکره شـماره (۶۴۸۱۰- ۰۵۰۲- ۱۴۰۰ ) مسـکونه اصلی ولایت کابل گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشـند از تاریخ نشر اعلان الـی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانسـتان واقـع ده افغانان تعمیر قبلـی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۶۸۸

***

### اطلاعیه فروش امتیاز دواخانه

محترم نصـرت الله فرزنـد محمد ظاهر ولدیت ناظر حسـین دارنـده تذکره نمبر (۲۸۰۸۰۲۱ ) مسـکونه اصلـی ولایت غزنی مالک امتیاز دواخانه نصرت ادریس واقـع ناحیه سـیزدهم ولایـت کابل طی درخواستی به مقام محترم اداره ملی غذا و ادویه افغانسـتان عارض و خواهان فروش امتیـاز دواخانـه خویش بـالای محترم محمـد خان قدمی فرزنـد ابراهیم قدمی ولدیت جمعه قدمی دارنده تذکره شـماره (۶۵۲۰۶-۰۸۰۲-۱۴۰۱) مسـکونه اصلی ولایت غزنی گردیده است .

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد ادعای داشته باشـند از تاریخ نشر اعلان الـی مدت ۱۰ روز به آدرس اداره ملی غذا وادویه افغانسـتان واقـع ده افغانان تعمیر قبلـی وزارت اطلاعات و فرهنگ مراجعه نمایند. ۶۷۶

***

### اطلاعیه

اسـامی محمد ناصر یک باب مغازه ترمیم طلب تیپک ملکیت این شـرکت عقب تپه قـوال های رحمن مینه را بـه کرایه ماهوار مبلغ ۲۵۵۰۰ افغانی برای مدت سـه سال تقاضاء نموده است.

اشخاص و شـرکت های واجد شرایط که به جایداد فوق ضرورت داشـته و به کرایه بیشـتر بپردازند درخواست های خویش را الی مدت ۱۴ یوم از نشـر اعلان به آمریت املاک ،شـرکت امارتی ارزاق واقع جوار سیلوی مرکز سپرده خود شان به روز مزایده حاضر شـوند . شـرطنامه مرتبه را در بدل قیمت معین بدون بازگشـت بدست آورده میتوانند تضمین نقدا اخذ می شود.۷۰۷

***

### اعلان موازی ۲۴۱۰ متر مربع زمین حیرتان

شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان، موازی ۲۴۱۰ متر مربـع زمین ملکیت خویش را که در شـهرک حیرتان جوار ریاست نفت و گاز حیرتـان موقعیت دارد بطور قرار داد به کرایه میدهد افراد، اشـخاص و شرکت های که خواهش قرار داد را داشـته باشند درخواسـتی های خویش را تـوأم با طرح کارگیری زمین مذکور اعتبار از تاریخ نشر اعلان هـذا الـی (۲۱) روز کاری جهت ارزیابی و تصمیم گیری به شـرکت دولتی نفت و گاز افغانسـتان واقع کوتل خیرخانه جوار ناحیه ۱۷ شاروالی کابل بسپارند.)

***

### اعلان داوطلبی

موضوع: ۱۱ بـاب دوکان واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت!

ریاسـت عمومی املاک دولتـی وزارت مالیه به تعداد(۱۱) باب دوکاکین ذیل واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت را طور جداگانه از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته به اعلان می سپارد.

۱. یکباب دوکان نمبر ۷۵ بمساحت ۸٫۷۴ مترمربع واقع کوچه مندوی مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۳۲۱۳٫۲) افغانی.

۲.یکبـاب دوکان نمبر۷۶بمسـاحت ۹٫۵۰مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینـه مارکیت بـه کرایه ابتدائـی ماهانه مبلغ) ۱۳۳۵۷) افغانی.

۳.یکبـاب دوکان نمبر۷۷بمسـاحت۹٫۵۰مترمربع واقـع کوچه منـدوی مربوط مدینـه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانـه مبلغ( ۱۴۳۱۹٫۹ ) افغانی.

۴. یکبـاب دوکان نمبر۷۸بمسـاحت ۱۰٫۴۵ مترمربـع واقـع کوچـه مندوی مربـوط مدینـه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۴۹۷۴) افغانی.

۵. یکبـاب دوکان نمبـر۷۹ بمسـاحت۱۰٫۴۵ ترمربع واقـع کوچه منـدوی مربـوط مدینه مارکیت بـه کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۸۶۸۸) افغانی.

۶.یکبـاب دوکان نمبـر۸۰ بمسـاحت۲۱٫۴۵مترمربع واقـع کوچه منـدوی مربـوط مدینه مارکیت بـه کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۴۹۶۲۵٫۱) افغانی.

۷. یکباب دوکان نمبر۸۱بمساحت۲۰٫۹۰ مترمربع واقـع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت بـه کرایـه ابتدائی ماهانـه مبلغ (۳۷۸۸۲٫۹۵) افغانی.

۸.یکبـاب دوکان نمبـر۸۲ مسـاحت۱۳٫۶۳مترمربع واقـع کوچـه منـدوی مربـوط مدینه مارکیت بـه کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۳۰۰۲۲) افغانی.

۹. یکبـاب دوکان نمبر۸۳بمسـاحت۲۱٫۸۴مترمربع واقع کوچه مندوی مربوط مدینه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۴۴۱۲۵) افغانی.

۱۰. یکبـاب دوکان نمبر۸۴بمسـاحت۱۶٫۶۶مترمربع واقع کوچه منـدوی مربوط مدینـه مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانـه مبلغ(۴۰۸۸۰٫۷) افغانی.

۱۱. یکبـاب دوکان نمبـر۵۸ب بمسـاحت۱٫۷۶مترمربع واقـع کوچـه منـدوی مربـوط مدینه مارکیت بـه کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۳۵۸۰٫۵) افغانی.

کوردینات(جی.پـی.اس نمبـر) ۳۴٫۵۱۷۴۱-۶۹٫۱۷۷۲۴

اشـخاص حقیقی و حکمی کـه خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشـته باشـند میتوانند در خواسـت های شان را بعـد از تاریخ ۱۱/ثور/ ۱۴۰۳ الی ۳۱/ثور/ ۱۴۰۳ به ریاسـت عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس:سینماپامیرتعمیر۱۴منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز شـماره تمـاس(- ۰۲۰۲۹۲۴۶۲۴۰۲۰۲۹۲۴۶۰۷)

مجلس داوطلبـی: اول جـوزا ۱۴۰۳ به سـاعت(۱۰:۰۰) قبـل از ظهـر برگـزار میگردد.

# Shariat Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ويب سايت:

**شریعت**
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت بریښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Tuesday 30 April 2024 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 440


# د هرات-غور لويې لارې د رغونې چارې پيل شوې




د رياست الـوزراء اقتصادي مرستيال مـلا عبدالغني برادر اخوند، هرات ته د سفر په ترځ کې د هرات - غور سـرک د جوړولو د چارو پرانيسته وکړه. ملاعبدالغني بـرادر اخونـد په همـدې موخه جوړو شـويو مراسـمو ته ويلي، د ټرانسـپورټ سـکټور د هـواد په اقتصـادي وده کـې مهم رول لري او اسـلامي امـارت همدې اهميت ته په کتو ياد سـکټور يو له لومړيتوبونو بولي. ښـاغلي برادر اخوند ويلي، د اسـلامي امارت په راتګ د لويـو لارو د بيارغونې کارونه پيل شوي، چې دغه سړک يې يـو له مهمـو، ملـي او لويو پروژو څخـه دی. د هرات - غور سړک په دريو پړاونو کې جوړېږي، چـې تېر کال يې لومـړی برخه د ۲۵ کيلومتره په اوږدوالي سره پيل شوې وه. دغه ۳۸۰ کيلو متره اوږد سړک د غور د يوه کان په بدل کې رغول کېږي. د هرات - غور سړک د افغانسـتان له مهمو ملي پروژو څخـه دی، چـې هـرات، غور، باميان، دايکندي او ميدان وردګ ولايتونه له کابل سره نښلوي، چې د سوداګرۍ د پراختيا او سيمه ييز ټرانزيـټ په برخه کې به مهم رول ولوبوي.

# دانقرې-کابل ترمنځ الوتنې پيلېږي

ترکي رسـنۍ وايي چې د انقرې-کابـل ترمنـځ تـر دريـ کلـن ځنډ وروسـته الوتنـې پيلېږي. دغه شـرکت پـر خپلـه وېبپاڼه له اسـتانبوله کابل ته د لومړنۍ الوتنې نېټه نږدې ۲۰ ورځې ... ۳مخ



# د غوري سمنټو د توليداتو کچه لوړېږي



د بغـلان ولايت د غوري سـمنټو فابريکـې مسـوولينو ويلي، چې پـه ۱۴۰۲ کال کـې ۱۵۰ زره ټنه غوري سـمنټ توليد شوي او هڅه کوي، چې سږ کال يې د توليد کچه تـر ۱۸۰ زره ټنو پورې ورسـوي. د يادې فابريکې بسـته بندۍ څانګې مدير محمد طاهر وايي، د توليدي ورتياوو لوړولو لپاره يې هڅې رواني دي، چې له لوړېدو سره ... ۳مخ

# اخراج اجباری و برگشت داوطلبانه بیش از ۴ هزار مهاجر افغان از پاکستان و ایران به کشور



وزارت امـور مهاجريـن و عودت‌کننـدگان کشـور می‌گويد، چهار هـزار و ۴۰۰ تن از مهاجرين افغان بـه تازه‌گـی از کشـورهای ايـران و پاکسـتان اخـراج و ياهم داوطلبـان به کشـور برگشـته‌اند. ايـن وزارت ديروز از برگشـت اين تعداد از مهاجرين از کشـورهای يادشـده، بـا نشـر خبرنامه‌هـای جداگانـه خبـر داده اسـت. بربنياد خبرنامه‌ها، سـه هزار و ۹۴۳ مهاجر افغـان از ايـران و از طريق مرز اسـلام‌قلعه در هرات، به کشور برگشـته‌اند. همچنان ۴۵۱ تن ديگر از مهاجرين کشـور نيز از پاکستان به‌گونـه اجبـاری اخراج شـده‌اند. مهاجرين اخراج‌شـده از پاکسـتان از طريـق خـط فرضـی ديورند در سـپين‌بولدک کندهـار و تورخـم ننگرهـار، وارد کشـور شـده‌اند. در خبرنامـه آمده که بـه مهاجرين مسـتحق کمک‌هـای لازم صورت گرفته و به سـازمان‌های بين‌المللی نيز برای دريافت ... ص۳

# بلخ کې ترافيکي پېښې د ښوونځي زده کوونکو ته مرګ ژوبله اړولې



د بلـخ امنيتـي مسـوولين وايي، چې د يـاد ولايت پـه چهارکنت ولسـوالۍ کې يوې ترافيکي پېښې د يوه ښـوونځي شپږو زده کوونکو ته مرګ ژوبله واړوله. د بلخ ولايـت د امنيې قوماندانۍ وياند حافظ محمد عيسـی وثيق ويلـي، چې د بلـخ د چهار کنت ولسـوالۍ په خواجـه قفتال کلي کـې د ښـوونځي زده کوونکـو يـو موټر له سـړک اوښـتی چې پـه پايله کې يـو زده کوونکی مړ شـوی او د موټروان پـه ګډون ۵ نـور زده کوونکـي ژوبل شـوي دي. ۳مخ

# د ملي موزيم ۵۰۰ لرغوني اثار رغول شوي

د ملـي موزيـم مسـوولينو خبـر ورکړی، چـې په تېـر کال کې يې ۵۰۰ تاريخي او لرغوني اثار ترميم کړي دي. د مسـوولينو په خبره په ترميم شـويو اثارو کې مجسمې، سـکې او د بېلابېلو دورو لوښـي شـامل دي. د ملي موزيم مرستيال وايـي، تېـر کال ۵۰۰ تاريخي او لرغوني اثار ترميم شوي دي. د هغه په وينا، ډېرې هغه اثار چې زيانمن شـوي په دې برخه کې بېرته رغول کيږي. دغـه راز د ملـي موزيم د ترميم څانګې مسووولان بيا وايي، د تاريخي او لرغونو اثارو د مرمت لپاره د توکو او وسـايلو له کمښت سـره مخ دي. دوی له سرپرسـت حکومت څخه غواړي چې د ملي موزيم د اثـارو د بيارغونې لپاره د تجهيزاتو او موادو برابرولو ته جدي پاملرنه وکړي.

# ميدان وردګو کې د زرګونو اړمنو لاسنيوی وشو

د ميدان‌وردګـو ولايـت ځايـي چارواکو ويلي، چې د دغه ولايت په نرخ ولسـوالۍ کې له شاوخواه ۲۵۰۰ اړمنو کورنيو سره د خوراکي توکو مرسته شوې ده. د ياد ولايت د کليو بيارغونې او پراختيا رياست مسـوولينو وايي، چـې د دوی تر څارنې لاندې د نړيـوال خوراکي پروګرام(WFP) په مالي مرسـته او د (NECDO) موسسـې پـه تخنيکي همکارۍ په نرخ ولسوالۍ کې له شاوخوا ۲۵۰۰ اړمنو کورنيو سـره د خوراکي توکو مرسته شوې. د مسوولينو په خبره هرې کورنۍ ته ۵۰ کيلو اوړه، ۴.۵۵ ليتره غوړي، (۶.۲۵) کيلودال او د ماشومانو د خوارځواکۍ لپـاره اړين توکي هم وېشل شوي دي.

# باميانو کې د کميابه مرغانو ښکاريان ونيول شول



د باميانـو امنيتي مسـوولينو د ياد ولايت په شـيبر ولسوالۍ کې د لږ مووندونکو مرغانو د ښکار په تړاو ۵ تنه نيولي دي. د باميانـو د امنيې قوماندانۍ وياند محمد خواني رسا وايي چې امنيتي ځواکونـو ۵ تنه شـيبر ولسـوالۍ ته په ښـکار پسـې تللي ښکاريان نيولي دي. د نومړو په وينا له نيول شويو کسانو څخه يو چره ييز ټوپک او څو ښـکار شوي مرغان هم ترلاسه شوي دي. دا په داسـې حال کې ده چې څه موده وړاندې... ۳مخ

# رويدادهای خارجی

**رياض:**

## تنها با ايجاد دولت مستقل فلسطينی می توان به بحران غزه پايان داد



وزيرخارجه عربستان می گويد، که تنها با ايجاد دولت مستقل فلسطينی می توان بحران غـزه را پايان داد. شـاهزاده فيصل بن فرحان که در نشست ويژه مجمع جهانی اقتصاد در شهر رياض سـخن می گفت؛ خواستار تشـکيل دولت فلسطينی برای پايان بحران غزه و جلوگيری از وقوع چنين بحران‌ها در آينده شد. او همچنان گفت: جامعه ين‌المللـی در حل بحران غـزه شکسـت خـورده اسـت. وزيرخارجـه عربسـتان افـزوده اسـت: وضعيت غزه نـه تنها يک فاجعه انسـانی اسـت، بل نمونه يـی از شکسـت کامـل منطـق سياسـی در حل منازعات است. وزير خارجه عربسـتان سـعودی گفته‌است: ((تنهـا يـک مسـير معتبـر و برگشـت‌ناپذير به سـوی تشکيل کشـور فلسـطينی باعث می‌شود کـه جهان بـار ديگـر بـا چنين بحرانـی در دو، سـه و يـا چهار سـال پيـش‌رو مواجه نشـود.)) ايـن گفتـه هـا در حالـی بيـان می شـود که مـردم فلسـطين و بسياری از اجتماعات جهان اسلام بـه اين بـاور اند که کشـور های عربی و بعد هم جهان اسـلام غزه و فلسـطين را فراموش کرده اند و تنها به گفته های زيبا ديپلماتيک و صدور اعلاميه ها بسنده کرده اند. در حالی که اين راه حل نيست.

## دوبۍ کې د ۳۵ ميلياردو ډالرو په ارزښت نوی ترمينل جوړېږي

د دوبۍ واکمن شـيخ محمد بن راشـد آل مکتوم په ايکس پاڼه کې ليکلـي؛ د آل مکتوم نړيوال هوايي ډګـر د مسـافرينو د نوي ترمينـل جوړولـو لپـاره ۱۲۸ ميليارډ درهم تصويب کړي دي. د رويټـرز د راپـور لـه مخې؛ د آل مکتوم نړيـوال هوايي ډګر په نړۍ کـې ترټولو لوی دی، چې د ۲۶۰ ميليون مسافرينو وړتيا لري او لـه دوبۍ نړيـوال هوايي ډګر څخه بـه پينځه چنـده لوی وي. دغـه راز څرګنده شـوې، چې په راتلونکيـو کلونو کـې به د دوبۍ هوايي ډګر ټولې چارې آل مکتوم ته وليږدول شي. د آل مکتوم هوايي ډګر به د ترمينل ۴۰۰ دروازې او پينځه ځغاسـت‌ليکې هم ولري. د دوبۍ د اماراتـو دولتي هوايي شـرکت رييـس شـيخ احمد بن سـعيد آل مکتوم ويلي: دا هوايي ډګر بـه د اماراتو او د هغه د خور د لـږ لګښـت لرونکـي هوايي شـرکت فلای دوبۍ نـوی کور وي او د ټولو هوايي شـرکتونو له شريکانو سره، چې نړۍ له دوبۍ سـره نښـلوي؛ مل پاتې شـي. د دوبۍ د ميډيـا دفتر او د دوبۍ د هوايي ډګرونو اجرائيوي رييس پـاول ګريفيټس څرګنـده کړې؛ دا هڅـه په نـړۍ کـې د هوايي چلند د مخکښ مرکـز په توګه د دوبـۍ موقعيت نـور هم پياوړی کوي.



## سه نظامی رژيم اشغالگر اسراييل در غزه کشته و ۱۱ تن‌شان زخمی شدند

برېنياد گزارش‌ها، سه نظامی رژيم اشغالگر اسراييل از سوی نيروهای جنبـش حمـاس در غزه کشـته و يـازده تن آنـان زخمی شـده‌اند. شـماری از مقام‌هـای رژيـم صهيونيستی اسراييل به شرط پنهان مانـدن هويت‌شـان در گفت‌وگو با رسانه‌ها کشته شـدن سه سرباز ايـن رژيـم را تاييـد کرده‌انـد. اين تعداد نظاميان رژيم اشـغالگر اسـراييل در سـاحه «نتساريم» در جنوب نوار غزه کشـته شـده‌اند. گفته می‌شـود که کشـته و زخمی شـدگان نظامی اسـراييل مربوط بـا قطعـه ۹۹ نظاميـان رژيـم صهيونيسـتی اسـراييل می‌شوند. ظاهـراً نظاميـان اسـراييلی در نتيجـه کميـن نيروهـای جنبش حماس، کشـته و زخمی شده‌اند. مقام‌های رژيم صهيونيستی تاهنوز رسماً در اين مورد چيزی نگفته‌اند. اين در حالی اسـت کـه نيروهای رژيـم اشـغالگر اسـراييل پس از تجـاوز به غـزه تلفات سـنگين و خسـارات هنگفت مالی را متقبل شده‌اند.



**توجه !**

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذاريد!